15 January 2026

# بے حسابه جنّت ته

# بوتلونکي اَعمال



(For Islamic Brothers) هفته وراه د سنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے د سنّتو ډک بیان

پۀ 15 جنورى، کال 2026ء (بمطابق: 25 رجب شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# بے حسابه جَنَّت ته بوتلونکي اَعمال

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ حساب به مو راګير کړي
- ـــ د الله پاک پۀ نزد د عظمت والا خلق
- ـــ د ټولو نه د عزت والا اِنسان
- ـــ د بردبارى[برداشت ] کولو اِنعام

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

اِمام شمسُ الدِّين سَخَاوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خپل كتاب القول البديع كښې نقل كړي دي چې: حضرت سَمُره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ په دربارِ رسالت كښې حاضر وو چې يو كَس حاضر شو او عرض يې اوكړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! الله پاک ته زيات نزدې اعمال كوم دي؟ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: رښتيا وئيل او امانت ادا كول- عرض يې اوكړو نور هم څۀ اِرشاد كړئ! اوئې فرمائيل: د تهجدو نـمونځ او د ګرمۍ روژې، عرض يې اوكړو: حضور نور هم څۀ اِرشاد كړئ! اوئې فرمائيل: د ذِكرُ الله كثرت كول او په ما باندې درودِ پاک لوستل تنګدستي لرې كوي- [1]

| | |
|---|---|
| ګر پڑھیں صدقِ دل سے، کافی ہے | جملہ حاجات کو درود شریف |
| پائیں گے چار پشت تک برکت | دل سے بھیجیں گے جو درود شریف [2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ... القول البديع، الباب الثانى من ثواب الصلاة على رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ...الخ، صفحه:135-
2 ... نورِ ايمان، صفحه:39-

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښېنم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ګنهګار بے کاره دليلونه

روايت دے: چې د قيامت پهٔ ورځ به يو کَس له د هغهٔ اعمال نامه ورکړے شي، هغه به عرض اوکړي: مولىٰ! پهٔ دې کښې چې څهٔ ليکلے شوي دي، ما دا نهٔ دي کړي پهٔ دې باندې به کِراماً کَاتِبِين (يعنې اعمال ليکونکې فرښتے) راوستلے شي، اِنسان به عرض اوکړي: مولىٰ! دا فرښتے دي، دوئي ستا د حکم پابندې دي، زهٔ به هم هُغه ګواه قبلووم کوم چې زما نه وي۔ الله پاک به د هُغه اِنسان ژبې ته حکم اوکړي: زما پهٔ قُدرت سره وايه! او د حق نه علاوه هيڅ مهٔ وايه۔ د انسان خُلهٔ به ټول ښهٔ او بد اعمال بيان کړي۔ اِنسان به بيا عرض اوکړي: مولىٰ! هُم دا ژبه ده کومه چې اکثر ګناه کوي، دا خو هسې هم زما دښمنه ده، زما خلاف زما د دښمن ګواهي معتبره څنګه کيدے شي؟

بيا به الله پاک د اِنسان لاسونو ته حکم اوکړي: اِنۡطِقَا بِمَافَعَلَ عَبۡدِی يعنې (اے د دې اِنسان لاسونو!) ووايئ چې زما بنده کوم کوم عملونه کړي دي؟ د هغهٔ لاسونه به هر څهٔ رښتيا رښتيا بيان کړي۔ اِنسان به بيا عرض اوکړي: مولىٰ! دا دواړه لاسونه پهٔ شريکه يو

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

ګواه دے، دويم ګواه لا پاتې دے- الله پاک به د هغۀ بنېو ته وفرمائي: تاسو څۀ وايئ؟ زما بنده چې څۀ کړي دي، د هغې ربنتيا ربنتيا ګواهي ورکړئ--!! بيا به د هغۀ بنېې هم د هغۀ خلاف ګواهي ورکړي-

کله چې د بنده ټولې غوښتنې ومنلے شي، د هغۀ پۀ ګناهونو باندې به ګواهئ قائمې شوې وي نو هغه به ويريږي او خپلو اندامونو ته به پۀ ردو بدو وئيلو شروع شي وائي به: اے زما اندامونو--!! تاسو او زۀ خو يؤو يؤو، که زۀ دوزخ ته لاړم نو تاسو به راسره هم سوزئ، زۀ خو هم ستاسو د بچ کولو د پاره د خپل رَبّ پۀ حُضُور کنبې بيا بيا عرض کووم او تاسو زما (يعني هُم د خپل) څان خلاف ګواهي ورکوئ؟ د هغۀ اندامونه (مثلاً لاسونه، بنېې وغيره) به وائي: مونږ د الله پاک پۀ حکم باندې ګويان شوي يو، دا هم هغه دے څوک چې ټولو ته د خبرو طاقت ورعطا کوي-

بيا به دا اِنسان ډير وشرميږي، بيا به د دۀ سره د نجات هيڅ لاره نۀ وي پاتې، نو فرښتو ته به حُکم وشي: اے فرښتو! دا پۀ راښکلو دوزخ ته وغورځوئ--!! بيا به هُغه اِنسان عرض اوکړي: اے رَبِّ کريمه! تۀ اَرحَمُ الرَّاحِمِين (يعني د ټولو نه زيات رحم کوونکے) يې، پۀ ما ګنهګار باندې به ستا رحمت کله راوريږي؟ الله پاک به فرمائي: زما رحمت د منونکو د پاره دے، تۀ خپل ګناهونه اومنه! ستا به رحمت نصيب شي- اِنسان به فوراً عرض اوکړي: زۀ خپل ټول ګناهونه منم، دا خو بس د دوزخ ويره وه، د کومې له وجهې چې ما حُجَّت بازي (يعني د ګډو وډو دليلونو) ورکولو کوشش کولو- بيا به حُکم وشي: اے فرښتو! زما بنده زما پۀ رحمت سره زما جَنَّت ته بوځئ! بے شکه ما دا بخښلے دے- [1]

| | |
|---|---|
| نہ کرنا حشر میں پُرسش، مری ہو بے سبب بخشش | عطا کر باغِ فِردَوس از پئے شاہِ اُمَمُ مولیٰ! |
| خِرَد کرتی نہیں اب کام، اِلٰہی! میں ہُوا ناکام | تجھی سے اِلتجا ہے مجھ پہ کر رحم و کرم مولیٰ! |

1...دُرَّۃُالنَّاصحين، جلد:2، صفحه:381تا385ملتقطاً-

تُو بس رہنا سدا راضی، نہیں ہے تاب ناراضی | تُو ناخوش جس سے ہو برباد ہے تیری قسم مولیٰ![1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! هُغه ګنهګار به رَبِّ کريم اوبخښي، د ګناهونو باوجود به يې جَنَّت ته داخل کړي، يقيناً چې دا د هغهٔ رحمت دے خو غور اوکړئ چې معامله څومره ګرانه ده، آه! د قيامت په ورځ باندې به بهانې نهٔ چليږي، نن سبا خو به د خپلې تيرې ژبې په ذريعه خلق دوکه کړو، په اخوا ديخوا بهانو خو به زړهٔ وغولوو، ځان له به د دروغو تسلي ورکړو خو آه! د قيامت په ورځ کله چې به د رَبِّ قَهَّار په حُضُور کښې حاضري وي، په ګناهونو باندې لړلے شوې، توره اعمال نامه به راله په لاس کښې راکړے شي، هُغه وخت به د اِنکار هيڅ څهٔ صورت نهٔ جوړيږي، زمونږه هم خپل اندامونه، زمونږه لاسونه، زمونږه ښپې، زمونږه ژبه، زمونږ څرمن به هُم زمونږ خلاف ګواهي ورکوي، په دې حالت کښې به نجات حاصلول ډير ګران شي- يقيناً چې د رَشک قابل هغه دے څوک چې الله پاک په خپل رحمت سره جَنَّت ته داخِل کړي-

## حِساب به مو راګير کړي

په حديثِ پاک کښې دي: رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ يعني د چا نه چې حِساب واخستے شو، هغه به په عذاب کښې راګير شي-[2]

امتحاں کے کہاں قابِل ہوں میں پیارے الله! | بے سبب بخش دے مولیٰ! ترا کیا جاتا ہے؟[3]

اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: حيرانتيا په دې خبره نهٔ ده چې هلاک کيدونکے څنګه هلاک شول؟ حيرانتيا په دې خبره باندې ده چې نجات حاصلوونکي نجات څنګه حاصل کړو؟[4] يعني د قيامت په ورځ باندې د حساب کتاب معامله داسې

---

1... وسائلِ بخشش، صفحه:97 و 98 ملتقطاً۔

2... بخاری، کتاب العلم، باب من سمع شیئا...الخ، صفحه:101، حدیث:103۔

3... وسائلِ بخشش، صفحه:432۔

4... آداب حسن بصری لابن جوزی، صفحه:24۔

سخته او ګرانه ده چې پهٔ دې کښې پهٔ ناکامه کيدو د دوزخ حقدار جوړيدل ډيره اسانه خبره ده خو نجات حاصلول او د جَنَّت حقدار جوړيدل ډير ګران کار دے، څکه حيرانتيا پهٔ دې خبره باندې نۀ ده چې دوزخ ته تلونکے دوزخ ته څنګه لاړو؟ حيرانتيا پهٔ دې خبره باندې ده چې د حساب کتاب نه نجات حاصلوونکي نجات څنګه حاصل کړو؟

| | |
|---|---|
| مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے | ہو مجھ ناتواں پر کرم یااِلٰہی! |
| گُناہوں سے بھرپُور نامہ ہے میرا | مجھے بخش دے کر کرم یااِلٰہی! |
| میں تھا لائقِ نارِ دوزخ خُدایا | دِی جنّت ہے کتنا کرم یااِلٰہی!(1) |

## بے حسابه جَنَّت ته بوتلونکي اعمال

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له دا دُعا کول پکار ده چې الله پاک بس پهٔ خپل رحمت سره، د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ شفاعت سره مونږ ته بے حسابه جَنَّت راعطا کړي۔

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا هم پهٔ مونږ ګنهګارانو باندې ډير لوئي اِحسان دے چې هغوئي مونږ ته داسې نيک اعمال وښودل د کومو پهٔ اِختيارولو چې مونږ د قيامت د حساب نه بچ کيدے شو، بے حسابه جَنَّت ته د داخليدو حقدار جوړيدے شو۔ راځئ چې د داسې نيک اعمالو پهٔ باره کښې واورو:

### (1): پهٔ وخت باندې نـمونځ کول

بے حسابه جَنَّت ته بوتلونکے وړومبے نيک عمل دے: **پهٔ وخت باندې نـمونځ کول**۔ د مسلمانانو د خوږې مور جاني حضرت عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے، د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي چې الله پاک فرمائي: زما د بنده زما پهٔ ذِمهٔ کرم باندې وعده ده چې که هغه پهٔ وخت نـمونځ قائم وساتي نو زهٔ

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:110 ملتقطاً۔

هغهٔ له عذاب ورنکړم او بے حسابه يې جَنَّت ته داخِل کړم-[1]

پڑھتے رہو نماز کہ جنّت میں جاؤ گے | ہوگا وہ تم پہ فضل کہ دیکھے ہی جاؤ گے

د دې حديثِ قُدسي نه د يو څو خبرو پته ولګيده: ❁ **ورومبۍ خبره**: دا چې پهٔ وخت باندې د نـمونځ پابندي کوونکي له به الله پاک عذاب نهٔ ورکوي ❁ **دويمه خبره**: دا چې پهٔ وخت باندې نـمونځ ادا کول بغير د حِساب نه جَنَّت ته داخلوونکے عمل دے ❁ **دريمه خبره**: دا چې نـمونځ کول ډير د فضيلت والا عمل دے ❁ **څلورمه خبره**: دا چې هر مسلمان له د نـمونځ د وختونو خيال ساتل پکار دي چې پهٔ وخت نـمونځ ادا کړے شي-

## د نـمونځ وخت تړل فرض دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ياد ساتئ چې د نـمونځ وخت تړل فرض دي- يعنې د نـمونځونو بيل بيل وخت مقرر دے، نـمونځ هميشه هم پهٔ هُغه وخت کښې ادا کول دي- يو مشهور آيت مبارک کوم چې پهٔ جوماتونو کښې هم ليکلے شوے وي بلکې د جوماتونو پهٔ کړو باندې هم ليکلے شوے وي- د پينځمې سيپارې د سورهٔ نساء آيت نمبر 103 دے- الله پاک اِرشاد فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه نـمونځ پهٔ مسلمانانو باندې پهٔ مقرر شوي وخت کښې فرض دے-

## د عبادت وختونه پيژندل پهٔ هر مسلمان باندې فرض عين دي

هر عاقِل بالغ له د نـمونځونو د وختونو خيال ساتل ضروري دي- بعضې نـمونځ کوونکي د دې بالکل پرواه نهٔ کوي، د کوم نـمونځ وخت د کله پورې دے؟ خلقو ته هډو معلوم هم نهٔ وي، بعضې وخت نمر راختلے وي يعنې د سحر وخت تير شوے وي او بيا

---

1... معجم اوسط، جلد:3، صفحہ:334، حديث:4764ملتقطاً-

هم خلق د سحر نـمونځ ادا کوي- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: وخت پيژندل يعني د نـمونځ، روژې وغيره د وختونو معلومات لرل خو پۀ هر مسلمان باندې فرضِ عين (يعني د هر عاقل او بالغ مسلمان د پاره ضروري) دي-(1)

## د اللّٰه پاک پۀ نزد د عظمت والا خلق

صحابئ رسول، حضرت ابو دَردا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپلو دوستانو ته فرمائي: که تاسو غواړئ نو زۀ به ضرور قَسم وخورم، بيا يـې وفرمائيل: پۀ اللّٰه پاک مې دې قَسم وي! د چا نه علاوه چې څوک هم د عبادت لائق نشته، بے شکه د اللّٰه پاک پۀ بارګاه کښې د ټولو بندګانو نه ډير د عظمت والا خلق هٰغه دي کوم چې شپه او ورځ د نمر او د سپوږمۍ خيال ساتي- دوستانو يـې عرض اوکړو: اے ابو دردا! آيا د دې نه اذان کوونکـي مُراد دي؟ اوئې فرمائيل: بلکې چې کوم مسلمان هم د نـمونځ د وختونو خيال ساتي-(2)

مونږ له پکار دي چې د نـمونځونو د وختونو خيال وساتو- نن سبا د نـمونځونو د وختونو د خيال ساتلو يو اسان انداز دا دے چې پۀ خپل موبائل کښې ***Prayer Time Application*** انسټال کړئ، دا د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا جاري کړے شوے دے، ډير اعلیٰ ايپلي کيشن دے، د هر مسلمان ضرورت دے- پۀ دې کښې د ټولې دُنيا د لکونو ځايونو د نـمونځونو وختونه ورکړے شوي دي- د دې نه علاوه ډيجيټل تسبيح (***Digital Praise***)، قبله نُما (يعني ***Compass*** کمپاس) او نور ډير بهترين فيچرز (***Features***) دي، يو اهم خاصيت دا هم دے چې د دې ايپلي کيشن پۀ مرسته مونږ موبائل پۀ آټو سائلنټ موډ (***Auto silent mode***) هم لګولے شو- د دې آپشن پۀ مرسته چې څنګه د نـمونځ وخت شي، موبائل به پخپله سائلنټ (***Silent***) شي، داسې به پۀ

1... فتاوٰی رضويه، جلد:10، صفحه:569-

2... کتاب الثقات، جلد:4، صفحه:330، حديث:4799-

جومات کښې د موبائل ټون د غږېدو نه هم بچ شي۔

الله پاک دې مونږ ته پينځه واړه نـمونځونه په وخت باندې په جومات کښې، د جَمعې سره په وړومبي صف کښې د ادا کولو توفيق راعطا کړي۔ کاش چې د ټولو نـمونځونو د وختونو د خيال ساتلو عادت مو جوړ شي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2): دويم نيک عَمَل: تقویٰ

بے حسابه جَنَّت ته بوتلونکے دويم نيک عمل دے: **تقویٰ**۔ څوک چې تقویٰ اِختيار کړي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! الله پاک به هغهٔ ته بے حسابه جَنَّت عطا کړي۔

اس تَعَلُّق سے 3آياتِ کريمه سنيے! الله پاک ارشاد فرماتا ہے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّ عُيُوْنٍ ؕ﴿۴۵﴾ اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ﴿۴۶﴾ (پاره:14، سورهٔ حجر:46،45) | تَرجمهٔ کَنزُالعِرفان: بيشکه پرهيزګاره خلق به په باغونو او چينو کښې وي (حُکم به اوشي) په دې کښې په سلامتيا سره په امن و امان داخل شئ |

ايک اور مقام پر ارشاد ہوتا ہے:

| | |
|---|---|
| يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ۙ﴿۸۵﴾ (پاره:16، سورهٔ مريم:85) | تَرجمهٔ کَنزُالعِرفان: ياد کړه په کومه ورځ چې به مونږه پرهيزګاره خلق د رحمٰن طرف ته ميلمانه جوړ کړي بوځو |

## د اخرت تقسيم په تقویٰ باندې شوے دے

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د تقویٰ په برکت باندې به بے حسابه جَنَّت ته داخليدل نصيب کيږي - د تصوف په مشهور کتاب رِسَالَه قُشَيْرِيَه کښې دي، حضرت شيخ کَتَّانِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د دُنيا تقسيم په ازميښت باندې شوے دے او د اخرت تقسيم په

تقوىٰ باندې شوے دے۔[1] يعنې په دُنيا کښې عزت، مرتبه او مقام، اوچت والے، ترقي، کاميابي د هغه چا نصيب کيږي څوک چې ډير محنت کوي او په اخرت کښې به اوچتې درجې، ډير عزت، ډير مقام او مرتبه د هغه چا نصيب کيږي څوک چې زيات تقوىٰ دار وي- په دولسمه سيپاره، **سورهٔ هُود**، آيت نمبر: 49 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۹﴾ (پارہ: 12، سورۃ هود: 49) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه ښهٔ انجام د پرهيزګارو د پاره دے- |

په يو ځائے کښې الله پاک د جَنَّت په باره کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ (پارہ: 4، سورۃ آلِ عمران: 133) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هغه د پرهيزګارو د پاره تيار کړے شوے دے- |

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې الله پاک جَنَّت جوړ کړے هم د تقوىٰ دارو د پاره دے، لهذا چې څوک ډير پرهيزګاره وي، د هغهٔ به په جَنَّت کښې ډيرې اوچتې مرتبې نصيب کيږي، هغهٔ ته به ډير نعمتونه ميلاؤيږي-

## تقوىٰ څهٔ ده؟

تقوىٰ څهٔ ته وئيلے شي؟ په دې هم ځان پوهه کړئ! يوه ورځ د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ حضرت کَعبُ الاَحبَار رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته وفرمائيل: اے کعبه! ووايئ چې تقوىٰ څهٔ ده؟ حضرت کعبُ الاَحبار رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عرض اوکړو: اے اَمِيرُ المُؤمِنِين! آيا تاسو چرته په داسې لار باندې تير شوي يې په کومه چې جاړې [يعني کَنړ ازغن بوټي] وي؟ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائيل: آؤ، بالکل زهٔ په داسې لار باندې تير شوے يم- حضرت کعب الاَحبار رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عرض اوکړو: بيا تاسو په داسې لار باندې څنګه تيريږئ؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: زهٔ د ازغو نه ځان ساتم او خپلې جامې

1…رساله قشيريه، باب التقوىٰ، صفحه: 142۔

راغونډووم- حضرت كعب رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَيۡه عرض اوكړو: ذٰلِكَ التَّقْوٰى اے اَمِيرُ الْمُؤمِنِينه! بس هم دا تقوىٰ ده- (1)

مطلب دا دے چې مونږ دې دُنيا ته راغلو، الله پاک مونږ ته پاک رُوح راعطا كړو، پاک صفا زړۀ يـې راعطا كړو، اوس مونږ پۀ دې دُنيا تيريږو او د اخرت طرف ته روان يو، ګويا دا دُنيا يوه لاره ده او پۀ دې لاره باندې ازغن ګڼ بوټي دي ❀ يو طرف ته شيطان دے ❀ بل طرف ته نفس دے ❀ يو طرف ته د دُنيا محبت دے ❀ بل طرف ته د مال محبت دے ❀ حسد ❀ بغض ❀ كينه ❀ خواهش پرستي وغيره وغيره پۀ زرګونو ګناهونه او پۀ زرګونو د ګناهونو لارې، دا ټولې ګويا ازغن ګڼې بوټي دي، مونږ ته د ژوند پۀ دې سفر كښې خپل پاک رُوح، خپل زړۀ د دې ازغنو ګڼو بوټو (يعنې ګناهونو) نه بچ كول او تيريدل دي، بس هم د دې خيز نوم تقوىٰ ده-

## (3): معاف كول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! بے حسابه جَنَّت ته پۀ بوتلونكو اعمالو كښې يو عمل معاف كول هم دي-

حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ بيان كوي، د غيبو نه خبر او غيب ويونكي رښتوني نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غيبو خبر وركوي او فرمائي : كله چې د قيامت پۀ ورځ بندګان د حساب د پاره ودريږي نو يو اواز كوونكے به اواز اوكړي: هٰغه خلق ودريږئ د كومو اَجر چې د الله پاک پۀ ذِمَّه باندې دے او جَنَّت ته لاړ شئ- پوښتنه به اوكړے شي: هغه څوک دي د كومو اَجر چې د الله پاک پۀ ذِمَّه باندې دے؟ وه به وئيلے شي: خلق معاف كوونكـي- پۀ دې اوريدو به پۀ زرګونو خلق ودريږي او بغير د حساب نه به جَنَّت ته داخِل شي-(2)

1...تفسيرِ بغوی، پاره:1، سورۂ بقره، زيرِ آيت:2، جلد:1، صفحه:13۔

2...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:542، حديث:1998۔

مُعاف فضل و کرم سے ہو ہر خطا یا ربّ | ہو مغفِرت پئے سلطانِ اَنبیا یا ربّ
بِلا حساب ہو جنّت میں داخِلہ یا ربّ | پڑوس خُلد میں سَرور کا ہو عطا یا ربّ(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د معاف کولو فضیلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! معلومه شوه چې خلق معاف کول بغیر د حساب نه جَنَّت ته بوتلونکے عمل دے- افسوس چې نن سبا د دې نیکۍ اِختیارولو والا ډیر کم په نظر راځي- غصه، بُغض، کینه (یعني په زړۀ کښې پټه دښمني ساتل) ډیره عامه ده- د نورو په وړه وړه غلطۍ باندې تعلق پریښودے کیږي، په زړۀ کښې خبرې ساتلے کیږې او بدلې اخستلے کیږي- کاش چې زمونږ توفیق نصیب شي چې مونږ د نورو معاف کولو والا جوړ شو-

## معاف کول افضل عمل دے

الله پاک اِرشاد فرمائي:

اِنْ تُبْدُوْا خَیْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِیْرًا ﴿۱۴۹﴾ (پارہ:6، سورۂ نساء:149)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: که تاسو څۀ نیکي په ښکاره کوئ یا په پټه یا د چا بدي معاف کړئ نو بے شکه الله معاف کوونکے قُدرت لرونکے دے-

یعني که تاسو کوم یو نیک کار په ښکاره اوکړئ یا یې پټ اوکړئ یا د چا بد معاف کړئ نو دا افضل عمل دے، ځکه چې الله پاک په سزا ورکولو د هر قِسمه قدرت لرلو باوجود د خپلو بندګانو ګناهونه معاف کوي او هغوئي بخښي- ځکه تاسو هم په خپل ځان باندې ظلم زور کوونکي معاف کړئ او د خلقو غلطیانې معاف کړئ-(2)

1...وسائلِ بخشش، صفحه:82۔

2...تفسیر صراط الجنان، پارہ:6، سورۂ نساء، زیرِ آیت:149، جلد:2، صفحه:341r۔

## د ټولو نه د عزت والا اِنسان

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: اے زما ربه! ستا په بندګانو کښې څوک ستا په بارګاه کښې د ټولو نه زيات عزت والا دے؟ الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: **هغه بنده کوم چې په بدله اخستو باندې د قُدرت لرلو باوجود معاف کړي۔**(1)

## په معاف کولو د جَنَّت داخله

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې په دريو خبرو باندې عمل اوکړي نو الله پاک به د هغهٔ په حساب کښې اساني وفرمائي او هغه به په خپل رحمت سره جَنَّت ته داخِل کړي۔ عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما مور او پلار دې ستاسو نه زار شي، هغه کوم درې اعمال دي؟ نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: (1): **څوک چې تا محروم کړي نو تهٔ هغه ته ورکړه وکړې** (2): **څوک چې ستا سره تعلق پريږدي نو تهٔ يې ورسره وساتې** (3): **او څوک چې په تا باندې ظُلم اوکړي تهٔ هغه معاف کړې۔** عرض يې اوکړو: يا نبيَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! چې زهٔ دا اعمال اوکړم نو ما ته به څهٔ ميلاؤيږي؟ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: يُدْخِلُكَ اللّٰہُ الْجَنَّةَ الله پاک به تا جَنَّت ته داخِل کړي۔(2)

| | |
|---|---|
| کوئی دُھتکارے یا جھاڑے بلکہ مارے صَبر کر | مت جھگڑ ، مت بُڑبُڑا ، پا اَجر رب سے صبر کر |
| کرنا تم عطّاؔر کے حق میں دُعائے مغفِرت | اِس جہاں میں عافِیت ہو اُس جہاں میں عافیت |

## ټول اَبُو ضَمضم جوړ شئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د معاف کولو په باره کښې د خوږ محبوب آقا، مکي مَدَني

1...شعب الایمان، باب فی حسن الخلق، فصل فی ترک الغضب، جلد:6، صفحہ:319، حدیث:8327۔

2...مجمع الزوائد، کتاب البر و الصلة، باب مکارم الاخلاق...الخ، جلد:8، صفحہ:247، حدیث:13697۔

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو ښکلے نصیحت واورئ! دا نصیحت زما د پاره هم دے، ستاسو د پاره هم دے، د زید، عَمرو، بکر وغیره د ټولو د پاره دے- د دواړو جهانو سردار، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: آیا تاسو د اَبُو ضَمضم په شان نشئ کیدے؟ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عرض وکړو: اَبُو ضَمضم څوک دے؟ اوئې فرمائیل: ستاسو نه په مخکښینو خلقو کښې یو کَس وو، چې کله به سحر شو نو هغهٔ به داسې وئیل: **اے اللّٰه پاکه! ما د نن ورځې خپل عزت په هُغه کَس باندې صدقه کړو (یعنې هغه مې معاف کړو) څوک چې په ما باندې ظلم اوکړي-** (1)

خومره ښکلے نصیحت دے- چې مونږه هم خپل دا معمول جوړ کړو ❀ هره ورځ خپل عزت، خپل وقار، د خپل اوچت حیثیت رُعب، د خپلې عهدې او د څوکۍ غرور وغیره وغیره هُغه ټول څیزونه کوم چې مونږه د بے صبرۍ او غصې د پاره غولوي، هُغه ټول څیزونه قربان کړو ❀ روزانه دا نیت اوکړو چې یا اللّٰه پاکه! نن چې څوک څوک ما تنګوي، ما هغه د مخکښې نه معاف کړل ❀ نن چې څوک په ما باندې ګوتې اوچتوي، ما هغه معاف کړل ❀ څوک چې هم نن ما ته پیغور کوي، ما هغه معاف کړل ❀ څوک چې هم نن ما ته تکلیف راکوي ❀ ما ته په ترس نظر ګوري ❀ ما ته کنځلې کوي ❀ په ما پورې مَلَندې کوي، اے اللّٰه پاکه! ستا د رضا د پاره ما ټول د مخکښې نه معاف کړل-

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- کاش چې زمونږه د صبر، حِلم او د برداشت نعمت نصیب شي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| تُو عطا حِلْم کی بھیک کر دے | میرے اخلاق بھی ٹھیک کر دے |
| تجھ کو فاروق کا واسطہ ہے | یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے (2) |

---

1...شعب الایمان، باب: فی حسن الخلق، جلد:6، صفحه262، حدیث:8082-

2...وسائِلِ بخشش، صفحه:138-

## (4): صِلهٔ رَحمي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! بے حسابه جَنَّت ته پهٔ بوتلونکو اعمالو کښې يو بهترين عمل صِلهٔ رَحمي هم ده- پهٔ بهارِ شريعت کښې دي: د صِلهٔ رَحمی معنیٰ: رشته پالل ده يعني د خپلوانو سره د نيکئ او ښهٔ سلوک يعني ښيګړه کول-(1)

## د خپلوانو سره د ښهٔ سلوک شکلونه

د صِلهٔ رحمی يعني د خپلوانو سره د ښهٔ سلوک مختلف شکلونه دي: ❁ هغوئي له هَدِيه او تحفه ورکول ❁ که د هغوئي پهٔ څهٔ څيز کښې تاسو ته د مدد ضرورت شي نو د هغوئي مدد کول ❁ هغوئي ته سلام کول ❁ د هغوئي د ملاقات د پاره تلل ❁ د هغوئي سره ناسته پاسته ❁ د هغوئي سره خبرې اترې کول ❁ د هغوئي سره د شفقت او مهربانئ سلوک کول-(2)

## هغه اللّٰه پاک ماتوي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له پهٔ هر حالت کښې د خپلوانو سره ښهٔ سلوک کول پکار دي- نن سبا خلق پهٔ وړه وړه خبره تعلقات پرېږدي ❁ فلانکي د خوي د وادهٔ دعوت رانکړو، لهذا زما د هغهٔ سره غم ښادي ختمه---!! ❁ فلانکي کور ته راوبللم او قدر مدار يې راله اونکړو، لهذا د نن نه د هغهٔ سره زمونږ هيڅ تعلق نشته ❁ فلانکي خپل زما د دُکان پهٔ ځائے پهٔ خوا کښې د دُکان نه سودا واخستله، لهذا د هغهٔ سره زما خبرې بندې، بالکل پهٔ معمولي معمولي خبرو باندې غم ښادي ختمولے (يعني رشتے ماتولے) کيږي حالانکې د کومو خپلوانو سره چې د صِلهٔ رحمئ حکم دے يعني د خپلوانو سره د ښهٔ

---

1...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:558، حصّه:16 بتغير-

2...دُرَر الحکام، جلد:1، صفحه:323-

سلوک کولو حکم دے، د هغوئي سره خپلولي پريښودل، سخته ګناه ده- پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: څوک چې رشته ماتوي، الله پاک هغه ماتوي-[1]

## د صبر کولو اِنعام

يوه پوښتنه دلته ډيره عامه ده، هغه دا چې زما خپلوان زما سره صحيح نهٔ چليږي، هغوئي زما سره ښهٔ سلوک نهٔ کوي نو اخر زهٔ د هغوئي سره ښهٔ سلوک ولې اوکړم؟ دا عام طور پهٔ ذهنونو کښې راتلونکے خيال دے- پهٔ دې باره کښې يو حديثِ پاک واورئ! حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې يو کَس پهٔ بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ❁ زهٔ د خپلو خپلوانو سره صِلهٔ رحمي کووم خو هغوئي زما سره تعلق پريږدي ❁ زهٔ د هغوئي سره ښهٔ سلوک کووم خو هغوئي زما سره بد سلوک کوي ❁ زهٔ د هغوئي سره د صبر نه کار اخلم خو هغوئي زما سره د جهالت سلوک کوي- نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: که معامله داسې ده څنګه چې تهٔ بيانوې نو ستا سره به د الله پاک د طرف نه يو مددګار وي د څو پورې چې تهٔ پهٔ دې حال اوسې-[2]

## (5): قَنَاعت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** بے حسابه جَنَّت ته بوتلونکے يو عمل **قَنَاعت** [يعني پهٔ لږو راضي کيدل] هم دے-

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې نبي پاک صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَنْ هُدِیَ بِالْاِسْلَامِ** چا ته چې د اِسلام هدايت وکړے شو **وَقَنَعَ بِمَا آتَاهُ اللهُ تَعَالٰی** او هغهٔ د الله پاک پهٔ ورکړے شوو باندې قناعت اِختيار کړي **دَخَلَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ** نو هغه قناعت کوونکے به بے حسابه جَنَّت ته داخِل شي-[3]

---

1…ابو داؤد، کتاب الزکاة، باب صلة الرحم، صفحه:276، حديث:1694 خلاصةً-

2…مسلم، کتاب البر و الصلة…الخ، باب صلة الرحم…الخ، صفحه:993، حديث:2558-

3…کتاب الکسب، صفحه:207-

# قناعت څۀ ته وئیلے شي؟

حضرت علامه عبد المُصطفٰے اعظمي رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: اِنسان ته چې د الله پاک د طرف نه څۀ هم میلاؤ شي، په هغې باندې په راضي اوسیدو سره خپل ژوند تیرولو، حِرص او لالچ پریښودو ته قناعت وئیلے شي- د قناعت عادت د اِنسان د پاره د الله پاک ډیر لوئي نعمت دے، قناعت خوښے اِنسان په سکون کښې وي او حرص ناک او لالچي اِنسان همیشه پریشانه اوسي-(1)

ضرورت سے زِیادہ مال و دولت کا نہیں طالب
رہے بس آپ کی نظرِ عنایت یارسولَ اللہ!
رہیں سب شاد گھر والے شہا تھوڑی سی روزی پر
عطا ہو دولتِ صبر و قناعت یارسولَ اللہ! (2)

## جَنَّت ته بے حسابه بوتلونکي یو څو نور اعمال

بے حسابه جَنَّت ته بوتلونکي یو څو نور اعمال واورئ! د مسلمانانو دریم خلیفه حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما د حضور نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلې دي چې 17 اخلاق دي، کوم بنده چې په دې 17 اخلاقو کښې په یو باندې هم عمل اوکړي نو هغه به بغیر د حساب نه جَنَّت ته داخلیږي-

صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم عرض اوکړو: یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هٰغه اخلاق مونږ ته هم وښایئ: نو نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ❀ غصه قابو کول ❀ د طاقت لرلو باوجود معاف کول ❀ د خپلوانو سره د تعلق پریښودو په بدله کښې صِلۀ رحمي کول ❀ که څوک د جهالت والا سلوک اوکړي نو حِلم او برداشت نه کار اخستل ❀ د غصې په وخت عزت مند اوسیدل ❀ د ناشکرۍ په وخت حق ادا کول (یعني د کومو خلقو حق ادا

1...جنتی زیور، صفحه:136۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:332۔

کول چې په مونږ لازم دي، اګر که هغوئي زمونږ شکريه نهٔ ادا کوي بيا هُم د هغوئي حق ادا کول پکار دي) ❁ پهٔ ورږو باندې ډوډۍ خوړل ❁ محرومو ته عطا کول ❁ د فساد پهٔ وخت اِصلاح کول ❁ بد کوونکي معاف کول ❁ د ظلم کوونکي سره نرمي کول ❁ د بخښنې غوښتلو والا بخښنه قبلول ❁ حق بيانول ❁ د دوکې والا ژوند نه ډډه کول ❁ او د الله پاک پهٔ اخلاقو کښې د ټولو نه زيات خوښ خيز جود او کرم دے۔ کله چې الله پاک د يو بنده سره د ښيګړې اِراده فرمائي نو هغهٔ ته د ښو اخلاقو توفيق عطا کوي د کومو سره چې د هغهٔ تخليق کيږي۔ او د کوم بنده سره چې د بدۍ اِراده فرمائي نو هغه پريږدي۔[1]

## د بيان خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د يو څو نيک اعمالو پهٔ باره کښې واوريدل: ❁ نـمونځ پهٔ وخت باندې ادا کول ❁ تقوىٰ اِختيارول ❁ صِلهٔ رحمي ❁ خلق معاف کول ❁ قناعت اِختيارول وغيره هغه اعمال دي کوم چې اِنسان بے حسابه جَنَّت ته بوځي۔

مونږ ټولو له پکار دي چې دا نيک اعمال اِختيار کړو۔ ټول ژوند پهٔ دې باندې ثابت قَدم اوسو، که الله پاک وغوښتل نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! بے حسابه به مو جَنَّت ته تلل نصيب شي۔

که داسې نورو نيک اعمالو پهٔ باره کښې معلوماتو حاصلولو د پاره د مکـتبة الـمدينه ډير ښکلے کتاب دے: جَنَّت میں لے جانے والے اعمال۔ دا کتاب ولولئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير دِيني معلومات او د نيک اعمالو فضيلتونه به درته معلوم شي۔ الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: يوه ورځ د الله پاک پهٔ لار کښې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بے حسابه جَنَّت ته د تللو د اعمالو د جذبې موندلو، د ښه ډيرو نيکو کولو او د الله پاک د راضي کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدو د پاره د عاشقانِ

---

1 ... نوادِرُ الأُصول، الاصل الحادى والستون والمائتان...الخ، جلد:2، صفحه:295۔

رسول د دِيني تنظيم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د ډير برکتونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **يوه ورځ د الله پاک په لار کښې** هم دے-

**د دې وخت عظيم او روحاني شخصيت** اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مونږ له دا مَدَني مقصد راکړے دے چې "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي-**" اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول د دې مَدَني مقصد پوره کولو د پاره کلي بانډو، د ښار اړخونو او د ښار داسې علاقې چرته چې ديني کار کمزورے وي هلته ځي او د نيکۍ دعوت عام کوي ❀ په هره يوه ورځ خصوصاً د جُمعې يا اتور په ورځ اِسلامي وروڼه دغه علاقو ته ځي ❀ هلته په جومات کښې نفل اعتکاف کولے شي ❀ د نيکۍ دعوت عام کولے شي ❀ تاسو هم تشريف راوړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ❀ د عِلمِ دِين زده کولو موقع به درته ميلاويږي ❀ د نيکۍ د دعوت ورکولو ثواب به درنصيب کيږي ❀ د الله پاک په لاره کښې به د وتو سعادت درنصيب کيږي ❀ د حديثِ پاک خُلاصه ده: په کوم قدم باندې چې د الله پاک په لار کښې دوړه پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي [1] ❀ کوم کَس چې د الله پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو وروڼو خوا له د ښار اړخونو ته لا ړ شي، په حديثِ پاک کښې د هغهٔ د پاره د جنّت زيرے راغلے دے- [2] راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو-

## مونږ خو بَس د دعوتِ اِسلامي شو

يو اِسلامي ورور وائي چې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د عامو ځوانانو په شان په غفلت کښې ژوند تيرولو، سندرې سازونه اوريدل زما د خوښې کارونه وو د کومو د پاره چې ما يو ريډيو هم اخستے وو، زما بخت څهٔ داسې رابيدار شو چې يوه

1...مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356 خلاصةً-

2...معجم اوسط، جلد:1، صفحه:472، حديث:1743-

ورځ زمونږ علاقې ته يو څو اِسلامي وروڼه يوه ورځ د الله پاک پهٔ لار کښې د تيرولو د پاره راغلل، پهٔ هغوئي کښې يو اِسلامي ورور ما ته پهٔ دې ديني کار کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، لِهٰذا زهٔ هم د يو څو دوستانو سره د هغوئي سره شامل شوم، د واپس راتللو پهٔ وخت يو اِسلامي ورور مونږ ته د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو نو مونږ عرض وکړو: که ياد وو راته نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ضرور به شرکت کوو-

بهر حال مونږ پهٔ اجتماع کښې شرکت وکړو، هلته هم د هُغه اِسلامي ورور سره ملاقات وشو چا چې مونږ ته د اجتماع دعوت راکړے وو، هغه دومره پهٔ ښو اخلاقو ميلاؤ شو چې بس مونږ خو د دعوتِ اسلامي شو- زما خو چې لکه د ژوند انداز بدل شو، د نمونځونو پابندي مې نصيب شوه، د سندرو ځائے نعت شريف واخستو، مخ مې پهٔ ګيره ښائسته کړو او عمامه مې پهٔ سر کړه او داسې د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راغلم-

عطائے حبيبِ خدا ديني ماحول | ہے فَيضانِ غوث ورضا ديني ماحول
تُو داڑھی بڑھا لے عِمامہ سجا لے | نہيں ہے يہ ہرگز بُرا ديني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِله! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جديد تيکنالوجئ پهٔ ذريعه هم د عِلمِ دِين ښودلو او د نيکئ د دعوت عام کولو موقعې راکوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اينډ تفسير) دے- پهٔ دې ايپلي کيشن کښې ❀ مکمل قرآنِ کريم ❀ د اعلىٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلې ترجمهٔ کنز الايمان ❀ اسانه ترجمه کنز العرفان او ❀ پهٔ اسان انداز کښې ليکلے شوے تفسير **صِرَاطُ الـجنان** شامل دے- ❀ قرآنِ کريم،

ترجمه او تفسير پهٔ آډيو (*Audio*) کښې هم اوريدے شئ- ❀ هره ورځ تلاوت کيدونکي سورتونه بيل جمع کړے شوي دي ❀ د مَدَني چينل تفسيرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ايپلي کيشن پهٔ ذريعه پهٔ اسانئ سره کتے شئ ❀ نور دا چې قرآني آيتونه، ترجمه او تفسير پهٔ وټس ايپ (*Whats App*)، پهٔ فيس بُک (*Facebook*) وغيره باندې د خپلو دوستانو سره شيئر کولے هم شئ- دا ايپلي کيشن پهٔ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِين زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نيکئ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** يو څو ضروري اِعلانونه واورئ! ❀ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس(تقريباً 8 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې **دِيني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د قوت القلوب نه 57 مدَني ګلونه (قسط: 2)** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئ دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❀ الله پاک زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ته بے شميره معجزې عطا کړې دي په کومو کښې چې يوه ډيره ځانګړې او مشهوره معجزه: د **مِعراج معجزه** ده- نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شپې په لږه شان حصه کښې د اوؤه اسمانونو، عرش او کرسیٔ نه هم بره تشريف يوړلو، په غړيدلو سترګو ورته الله پاک خپل ديدار عطا کړو او د دې هر څۀ نه پس هغوئ په زمکه باندې جلوه ګر شو- د دې واقعې په باره کښې مکـتبة الـمدينه يو کتاب **فيضانِ معراج** چاپ کړے دے- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه په **90 روپیٔ** په بيعه واخلئ- ځپله يـې هم ولولئ او نورو له هم دعوت ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په رَجَب کښې لوستلے کيدونکې دُعا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د **رَجَب شريف** مبارکه مياشت روانه ده، د نبيانو د نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم انداز مبارک وو چې کله به د رَجَب مياشت تشريف راوړو نو دا دُعا به يـې لوستله:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ، وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ

**ترجمه:** اے الله پاکه! زمونږ د پاره په رجب او په شعبان کښې برکت واچوې او مونږ د رمضان پورې ورسوې- [(1)]

راځئ چې مونږ هم دا دُعا ولولو:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ، وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي

---

1...مُسْنَدِ بَزّار، جلد:13، صفحه:117، حديث:6496۔

دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ښهٔ اخلاق د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د اخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه فرامین مبارک: (1): په ایمان کښې زیات کامِل هغه دے د چا چې اخلاق ښهٔ وي۔ (2) (2): د ښهٔ اخلاقو نه بهتر مسلمان ته هیڅ څیز نهٔ دے ورکړے شوے۔ (3)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ښهٔ اخلاق د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي۔ ❁ حضورِ اقدس صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر چا سره د ښو اخلاقو او محبت والاسلوک فرمائیلو ❁ نهٔ به یې خوک رټلو او نهٔ به یې ستغې سپورې وئیلې ❁ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ته به د کتلو سره مُسکے کیدلو، د هغوئي سره، د هغوئي د بچو سره به یې خوش طبعي فرمائیله، ماشومان به یې په غیږه مبارکه کښې کښینول ❁ د مریضانو تپوس به یې کولو ❁ په محفل کښې به چرې هم په غزیدلو ښپو نه کښیناستلو ❁ په سلام کښې به یې پهل [یعني وړومبے والے] کولو ❁ تهول به یې په ښهٔ نومونو سره رابلل ❁ د نورو خبره به یې نهٔ کټ کوله۔

الله پاک دې مونږ ته هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقو اختیارولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...ابو داود، کتاب السنه، باب دلیل علی زیادة الایمان، صفحه:737 حدیث:4682۔

3...شعب الایمان، باب فی حُسنِ خلق، جلد:6، صفحه:235، حدیث:7992۔

| | |
|---|---|
| بنا دو صبر و رضا کا پیکر | بنوں خوش اخلاق ایسا سرور |
| رہے سدا نرم ہی طبیعت | نبیِّ رحمت شفیعِ اُمّت |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہیے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| عِلم حاصِل کرو، جَہل زائِل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعي [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحمَد صَاوِى رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو

---

1 ...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2 ...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَافِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

---

1...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

2...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

3...الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھۡلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الۡحَلِیۡمُ الۡکَرِیۡمُ، سُبۡحٰنَ اللّٰہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب في کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2 ... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵